# زما اونیزه د یادښتونو کتابچه او کلیزه

| | |
|---|---|
| **توضیحات** | زده کوونکي به د وخت ویل زده کړی. همدا راز دوی به د اونۍ د خاطراتو کتابچه او میاشتینۍ جمترۍ جوړه کړي. |
| **مخکښه پوښتنه** | وخت څه شی دی؟ او موږ د وخت تیریدل څنګه حفظ کوو؟ |
| **دعمر ګروپ** | ۶ څخه تر ۸ کلونو پوري |
| **مضامین** | سواد زده کوونه، هنر/ډیزاین |
| **ټولټال اړین وخت:** | په څلورو ورځو کې ۴ ساعته |
| **خپل سرى/تر څارنې لاندې فعالیت:** | څارل شوی فعالیت |
| **اړینې سرچینې** | - کاغذي قاپونه (یا کارټ بورډ چې په دایروي شکل سره پرې شوی وي)، ورقه، سرېښ<br>- د ورقو نښولونکی، (بدیل توکي: د جامو قیتک، تار، یا سخک) |
| **د زده کړو پایلې** | - په یوه ساعت کې د قیقو تعداد او په یوه ورځ کې د ساعتونو تعداد پیژندل<br>- په انالاګ ساعتونو کې د وخت ویلو او حفظ کولو سره په ښه ډول بلدیدل.<br>- د اونۍ د ورځو او د کال دمیاشتو زده کول.<br>- خپل د اونۍ د خاطراتو کتابچه ترتیب کول.<br>- د تقویم (جنتري) جوړول |
| **پخوانۍ زده کړې** | - زده کوونکي باید تر ۶۰ د عددونو په صحیح ترتیب ویلو قادر واوسي ترڅو په ساعت کې وخت وویلی شي.<br>- د ۵ دفعاتي شمیرنه |

## لومړۍ ورځ

نن به تاسو د وخت ویل زده کړی

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | بحث (خبرې اترې) وکړئ:<br>● د وخت په اړه له زده کوونکو سره بحث وکړئ. له هغوی څخه وپوښتئ چې هغوی د وخت په اړه په څه پوهیږي، موږ وخت څنګه وایو، او ولې موږ اړتیا لرو چې د وخت ویلو باندې پوه شو.<br>● ددې په اړه خبرې وکړئ چې موږ هره ورځ د لمر خاته څخه تر لمر پریواته پورې وخت څنګه وایو او پخوا خلکو وخت څنګه پیژنده. (شمسي/لمریز ساعت او د نورو طریقو په واسطه)<br>● ددې په اړه بحث وکړئ چې څنګه کولی شی د لمر د اوچتیدلو او پریوتلو له لارې وخت ووایو. همدا راز ددې په اړه بحث وکړئ چې انسانانو پخوا د ساعتونو په نه شتون کې څنګه وخت ویلو. ()<br>● زده کوونکو ته د بیلابیلو پخوانیو ساعتونو انځورنه وښایاست او بیا هغوی سره ددې په اړه خبرې وکړئ چې د وخت په تیریدو سره د ساعتونو/ګړیو په شکلونو او ماهیتونو کې څومره بدلونونه راغلل. لکه ځیرک ساعتونه، هغه ساعتونه چې په GPS سره سمبال دي او داسې نور. |

| | |
|---|---|
| |  |
| ۱۰ دقیقې | • له زده کوونکو څخه وغواړئ چې هغوی نن سهار کوم کارونه ترسره کړي دي. لکه، د خوب څخه پاڅېدل، د سهار ډوډۍ خوړل، جامې اغوستل، د غاښونو برس کول، د ویښتانو برس کول او داسې نور.<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې تاسو ته ووایې چې ددې عملونو ترسره کول څومره وخت ته اړتیا لري.<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د پرون ورځې ۵ عملونه چې ترسره کړي یې ول په ناسم ترتیب سره په چټکۍ رسم کړي او بیا د هغوی د ټولګیوال څخه وغواړئ چې همدا فعالیتونه بیرته په سم ترتیب سره جوړ کړي (او یا دې ورته سمې شمیرې ورکړي.) |
| ۲۰ دقیقې | د یوه انالاګ ساعت جوړول<br><br>• توکي: د کاغذي قاپونو کارول (یا د کارټ بورډ کارول چې په دایروي شکل سره پرې شوی وي)، ورقه، سریخ، او دورقې نښلوونکې<br>• **لارښوونې:**<br>• کاغذي قابونه په دوه برخو باندې قات کړئ، له هغې څخه وروسته قاب تاو کړئ او بیا یې په نیمایې کې قات کړئ. کاغذي قاپ باید په منځ کې یو قات ولري. تاسو به دغه قات ځای د مرجع په حیث وکاروی.<br>• په ساعت باندې شمیرې ولیکئ |
| | • د ساعت لاسونه (ستنې) جوړې کړئ. په کاغذ یا کارتبورډ باندې دوه ستنې جوړې کړئ چې یوه یې اوږده د دقیقو ښودلو لپاره او یوه وړه (لنډه) ستنه د ساعت ښودلو لپاره وي.<br>• د ساعتونو د لاسونو (د دقیقې او ساعت لاسونه) د ضمیمه کولو لپاره باید د یو نښلوونکي توکي څخه کار واخلی لکه: د کاغذ نښلوونکی، د لین نښلوونکی، د جامو قیتک، تار او یا هم د ویختانو سیخک. |


**۲۰ دقیقې**

**د ساعتونو/ګړیو پیژندنه**


- د ساعت مخ رسم کړئ. په ساعت کې وختونه وښیئ لکه ۷:۰۰ او ۹:۰۰ بجې او هغه د ساعت پر مخ باندې ولیکئ.
- باید ډاډ ترلاسه کړئ چې زده کوونکي په دې پوهیږي چې وړوکی لاس د ساعت/ګړۍ ښودلو لپاره کارول کیږي. دا باید هم وویل شي او هم ولیکل شي.
- له زده کوونکو څخه وغواړئ چې ستاسو څخه وروسته لاندې جملې تکرار کړي:
(یو بجه، دوه بجې ........) او بیا له هغوی څخه وغواړئ چې د ټولګي مخې ته راشي او هغه وخت ولیکي او رسم کړي چې تاسو یې ورته وایاست. د بیلګې په توګه، (احمده، اوس ۹ بجې دي.) زده کوونکی باید ۹:۰۰ ولیکي او د ساعت/ګړۍ پر مخ باندې یې باید رسم هم کړي چې همدا وخت وښيي.

**د دقیقو پیژندنه:**

- زده کوونکو ته وښایاست چې په یوه ساعت/ګړۍ کې ۶۰ دقیقې دي. همدا راز، هغوی ته ووایاست چې په یوه ساعت کې اوږد لاس د دقیقو د ښودلو لپاره دی. زده کوونکي باید دقیقې ووایي او وې لیکي.
- اوس هغوی ته یو وخت له دقیقو وښیئ. د بیلګې په توګه: ۸:۱۰ او ۶:۴۵ او داسې نور.
- په تخته یا ورقو باندې د نوو ساعتونو د رسمولو څخه وروسته، له زده کوونکو څخه وپوښتئ چې څه وخت دی؟
- له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د ساعتونو شکلونه رسم کړي او له خپلو ټولګیوالو څخه د وخت په اړه وپوښتي.
- **لومړی فعالیت:** د هر ساعت لپاره د دقیقو او ساعتونو لاسونه رسم کړئ. (تاسو کولی شی نورې فعالیتي ورقې په ضمیمه کې پیدا کړی.)



**دوهم فعالیت**: د هر ساعت لاندې وختونه ولیکئ



## دوهمه ورځ:

نن به تاسو د اونۍ ورځې زده کړئ او د خپل ځان لپاره به د اونۍ د یاداشتونو کتابچه چمتو کړی.

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | **د اونۍ د ورځو په اړه لاندې سندره زده کړئ. (تاسو کولی شی د سندرې سره ځینې ساده عملونه هم ترسره کړی. زده کوونکي و هڅوئ چې د هرو دوو ورځو لپاره خپل یو حرکت ترسره کړي.)**<br>د اونۍ ورځې<br>د اونۍ ورځې<br>یکشنبه ده او دوشنبه ده<br>سه شنبه ده او چهار شنبه ده<br>پنجشنبه ده او جمع ده<br>او بیا شنبه ده!<br>د اونۍ ورځې<br>د اونې ورځې |
| ۱۰ دقیقې | **لوبه: ورځو ته خیز اچول**<br>1. ټول زده کوونکي په یوه لاین/قطار کې دریږي<br>2. له یوه زده کوونکي څخه وغواړئ چې د اونۍ یوه ورځ ووایي. (د بیلګې په توګه: پنجشنبه<br>3. کله چې تاسو د ویل شوې ورځې څخه وروسته بله ورځ ووایاست (مثلا: جمعه) لوبغاړي باید د مخې پر لور خیز واچوي.<br>4. کله چې تاسو د ویل شوې ورځې څخه مخکې بله ورځ ووایاست (د بیلګې په توګه: چهارشنبه) زده کوونکي باید مخ پر شا خیز واچوي. |
| | 5. هر هغه لوبغاړی چې ناسم خیز واچوي، د لوبې څخه بهر کیږي. ددې لپاره چې دا لوبه لا ستونزمنه کړئ، تاسو باید د اونۍ ورځې په ګړندی توګې سره ووایاست!<br>6. له بیلابیلو زده کوونکو څخه وغواړئ چې د اونۍ مختلفې ورځې په هر نوبت کې ووایي.<br>7. هر هغه لوبغاړی چې تر پایه پاتې شي، د لوبې ګټونکی دی! |


**۱۰ دقیقې**

**بحث (خبرې اترې) وکړئ**

- ستاسو په هیواد کې خلک په یوه اونۍ کې څو ورځې کار کوي؟ د هغو ورځو نومونه واخلئ.
- ستاسو په هیواد کې کوچنیان په اونۍ کې څو ورځې ښوونځي ته ځي؟ د هغو ورځو نومونه واخلئ.
- هغه ورځې چې په هغو کې په نورمال شکل خلک کار ته نه ځي او ماشومان ښوونځیو ته نه ځي، د څه په نامه یادیږي؟ (د اونۍ پای)
- تاسو معمولا د اونۍ په پای کې څه کوئ؟ کوم ډول د اونۍ پای ته تاسو ښه او په زړه پورې د اونۍ پای وایاست؟
- که چیرته تاسو د نړۍ واکمن شئ، آیا تاسو به د اونۍ ورځې بدلې کړئ؟ که بدلې یې کړې ولې؟ او که بدلې به یې نه کړئ، ولې؟

**۲۰ دقیقې**

- اوس چې تاسو د اونۍ د ورځو په اړه پوه شوئ، ددې وخت رارسیدلی دی چې تاسو خپل د اونۍ د یاداښتونو یوه کتابچه جوړه کړئ!
- ***بحث (خبرې اترې) وکړئ:*** د یادداښت کتابچه څه شی ده؟ (د یاداښت کتابچه د خپلو فکرونو، نظریو او د پیښو د لیکلو یوه کتابچه ده. دا داسې یوه کتابچه ده چې تاسو پکې د خپلو شخصي پیښو، نظریو او افکارو په اړه پکې معلومات لیکئ.) تاسو کولی شی زده کوونکو ته د یادداښت د کتابچې یوه بیلګه وښایاست.
- د اونۍ د هرې ورځې لپاره د لاندې شکل په څیر یوه ورقه رسمه کړئ او بیا ټولې ورقې یو ځای کړئ ترڅو یو کتاب ورڅخه جوړ شي.




- نن د اونۍ کومه ورځ ده؟
- د همدغې ورځې لپاره ورقه ډکه کړئ.
- د هغو فعالیتونو په اړه یو څه ولیکئ یا رسم کړئ چې تاسو نن سهار، غرمه، ماښام او د شپې ترسره کړي دي.
- ددې په اړه ولیکئ چې تاسو د دغې ورځې په پای کې څه رنګ یو احساس درلود.
- تاسو کولی شی خپله ورقه لا ښایسته کړئ او نور جزئیات هم ورکې اضافه کړئ.
- په خپلې د خاطراتو کتابچه کې، د نورو ورځو لپاره هم همدا فعالیتونه ترسره کړئ.

**۲۰ دقیقې**

د یوې قیصې لوستل **«د دوشنبو په ورځو کې زه ځان پټوم»**


[https://storyweaver.org.in/stories/249034-on-mondays-i-want-to-hide?mode=read](https://storyweaver.org.in/stories/249034-on-mondays-i-want-to-hide?mode=read)

- دې قیصې ته غوږ شی او یا یې ولولئ او بیا ووایاست چې په اونۍ کې ستاسو د خوښې ورځ کومه ده او ولې مو دا ورځ خوښیږي؟
- زما د خوښې ورځ ................. ده. زما دا ورځ ځکه خوښیږي چې ...................
- اوس قیصه په خپلو جملو کې ووایاست.

| | |
|---|---|
| | • که چیرته د اونۍ ورځې داسې خلک وای چې تاسو یې پیژنئ، نو هغوی به څنګه ښکاریدل؟ ستاسو د ښوونځي مدیر، ستاسو خور، یا ستاسو ښه ملګری؟ آیا هغوی به خوشحاله ول او که ستونزمن، ستړي کوونکي او که مصروف؟ |

## دریمه ورځ

نن ورځ به تاسو د میاشتو، موسمونو او د اونۍ د ورځو په اړه زده کړه وکړئ!

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | <br>**میاشتې، اونۍ او ورځې!**<br>• زده کوونکو ته یوه جنتري وښایاست او له هغوی څخه لاندې پوښتنې وکړئ؟ (که چیرته تاسو یوه جنتري نه لرئ، تاسو کولی شئ له زده کوونکو څخه د هغوی د زوکړې د نیټې په اړه وپوښتئ ترڅو هغوی متوجه شي څنګه مختلفې شتون لري.)<br>• په یوه کال کې څومره میاشتې دي؟ (۱۲ میاشتې)<br>• په یوه میاشت کې څو ورځې دي؟ (هره میاشت ۳۰ یا ۳۱ ورځې لري. یواځې د فبروري میاشت معمولا ۲۸ ورځې لري او ځینې وخت ۲۹ ورځې هم لري.)<br>• تاسو کولی شئ د خپلو ګوتو د بندونو څخه کار واخلئ ترڅو دا معلومه کړئ چې په یوه میاشت کې ۳۰ ورځې دي او که ۳۱. لومړنۍ اوچت بند د جنوري میاشت د ۳۱ ورځو لپاره وکاروئ. پورتنۍ برخه ۳۰ ورځې لري او ورپسې بل بند ۳۱ ورځې لري.<br>تاسو به دوه ځانګړې حالتونه ووینئ:<br><br>1. د فبروري میاشت همیشه ۲۸ یا ۲۹ ورځې لري.<br>2. د آګسټ میاشت ۳۱ ورځې لري او د جولای د میاشتې څخه وروسته رازي. د جولای میاشت هم ۳۱ ورځې لري.<br><br>• په یوه میاشت کې څو اونۍ دي؟ د ۱ څخه تر ۳۱ پورې د شمیرو یو خط رسم کړئ.<br>• په یوه اونۍ کې څو ورځې دي؟<br>• د ورځو نومونه وواياست او هغوی د شمیرو په کرښه باندې په تکراري ډول تر هغې ولیکئ چې د ۳۱ شمیرې ته ورسیږي.<br>• اونۍ څو ځلې تکراریږي؟ (په ۳۱ ورځو کې د اونۍ ورځې ۴ ځله تکراریږي. نو له همدې امله په یوه میاشت کې ۴ اونۍ دي او ۲ یا ۳ متباقي ورځې) |
| ۲۰ قیقې | **بحث وکړئ:**<br>• آیا ټولې میاشت یو شان دي؟ آیا په ځینو میاشتو کې هوا یخه او په ځینو نورو کې هوا ګرمه وي؟ (زده کوونکي به د موسمونو په اړه بحث وکړي.)<br>• څلور فصلونه (موسمونه) کوم دي؟ ستاسو هیواد څو ډاني موسمونه لري؟ |

<table>
<tr>
<td>

- ستاسو په هیواد کې په هر موسم کې د هوا حالات څنګه دي؟
- خلک معمولا په دې موسم کې کوم کارونه ترسره کوي؟
- دغه موسمونه په کوم ترتیب کې په یوه کال کې را منځ ته کیږي؟ **(پسرلی، دوبی، خزان (منی)، ژمی)**
- ستاسو د خوښې موسم کوم دی؟
- درې هغه عملونه چې تاسو یې په دې موسم کې کوی کوم دي؟ هغه عملونه له خپلو دوستانو سره شریک کړئ.
- لږ تر لږه ۳ انګلیسي کلمې وکاروئ.

د ساینس توسعه:

**ولې مرغۍ بیلا بیل موسمونه لرو؟**

(د یوه کال په اوږدو کې ځمکه د لمر شاوخوا ګرځي. ددې لامل چې مرغۍ ولې مختلف یا بیلا بیل موسمونه لرو د ځمکې کوږوالی دی. ځمکه د لمر د شاوخوا سفر په مهال کږه کیږي. د ځمکې کوږوالی د ځمکې په هرې نیمه کورې باندې خپلې اغیزې لري. او په نهایت کې ددې لامل کیږي چې ځینې وخت موسم ګرم واوسي او ځینې وخت موسم سوړ واوسي.)

</td>
<td></td>
</tr>
<tr>
<td>

**د موسمونو او میاشتو لوبه:**

1. د هر موسم لپاره یو عمل انتخاب کړئ. د بیلګې په توګه: پسرلی/خیز وهل
2. یو زده کوونکی به د یوې میاشتې یو نوم واخلی. لوبغاړي باید په همغه میاشتې کې موسم تشخیص کړي او بیا عمل ترسره کړي. دوی باید د موسم نوم هم وواېي.
3. که چیرته عمل نا سم وي، لوبغاړی د لوبې څخه بهر کیږي. هغه لوبغاړی چې ترپایه پورې پاتې شي د لوبې ګټونکی دی.

- **د خاطرو په کتابچه کې مو د نن ورځې لیکنه له هیره ونوځې.**

</td>
<td>۱۰ دقیقې</td>
</tr>
</table>

## خلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو خپله جنتري جوړه کړي.

<table>
<tr>
<th>فعالیت او توضیح</th>
<th>وخت</th>
</tr>
<tr>
<td>

اوس چې تاسو فصلونه، میاشتې او د اونۍ ورځې وپیژندلې، ددې وخت را رسیدلی دی چې خپله یوه جنتري جوړه کړی! په هره صفحه کې:

- د میاشتې انګریزي نوم ولیکئ
- په هماغه میاشت کې د اونۍ ورځې په انګریزی ولیکئ. (تاسو کولی شی د خپلو ګوتو بندونه وکاروی)
- په همدې ترتیب سره ټولو میاشتو ته ورقې (صفحې) جوړې کړئ.
- د خپلې جنترۍ د ورقو د سم تنظیم لپاره هغوی سنجاق کړئ.
- خپلې جمترۍ د فصلونو (موسمونو) په انځورونو باندې ښکلې کړئ. تاسو کولی شی د هغو جامو او یا هم خواړو په اړه تصویرونه رسم کړئ چې په هماغه میاشت کې یې خلک استعمالوي.

| جنوري | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
| 6 | 7 | 8 | 9 | 10 |
| 11 | 12 | 13 | 14 | 15 |
| 16 | 17 | 18 | 19 | 20 |
| 21 | 22 | 23 | 24 | 25 |
| 26 | 27 | 28 | 29 | 30 |
| 31 | | | | |

- د خپلې جمترۍ ښکلې کول پای ته ورسوئ او په ټولو میاشتو کې ټولو اړینو نیټو ته (لکه ستاسو د زوکړې ورځ) نښې جوړې کړئ.

</td>
<td>۳۰ دقیقې</td>
</tr>
</table>

| | |
|---|---|
| | • شمیرنه: د هغو میاشتو نومونه وشمیرئ چې د (A, C, D, J, M, N) په تورو سره شروع کیږي. د هرې میاشتې لاندې د هغې میاشتې شمیره ولیکئ.<br><br>**د نیټې (تاریخ) لیکل**<br>- په لاندې ډول موږ معمولا نیټه (تاریخ) لیکو<br>- د اسد میاشتې ۱۵ تاریخ ۲۰۲۲ کال (د میاشتې نوم/ ورځ/کال)<br><br>لاندې نیټې ولیکئ:<br>ستاسو د زوکړې نیټه، د نن ورځ نیټه، د یو ملګري د زوکړې نیټه، د سبا نیټه |
| ۱۵ دقیقې | • خپله جنتري (تقویم) له خپلو ملګرو سره شریک کړئ. د خپلو په زړه پورو میاشتو او اړینو تاریخونو په اړه خبرې وکړئ. (اړینې نیټې: لکه ستاسو د زوکړې ورځ)<br><br>**راځئ چې خریداري وکړو!**<br><br>- ستاسو ماموریت دادی چې د خپلې خوښې یوې میاشتې لپاره د خریدارۍ یو لیست جوړ کړئ.<br>- د خریدارۍ یو کارټ رسم کړئ او د ۱۰ څخه تر ۱۵ هغه شیان چې تاسو د دې میاشت لپاره انتخاب کړي دي.<br>- کله مو چې دا تمام کړ، د خپل همټولګي سره مو د خریدارۍ لیسټ تبدیل کړئ ترڅو د هغوی نظر (فیډبک) ترلاسه کړئ.<br>- بیلګه: (میاشت: جولای) زه باید یخ (واوره) واخلم څکه چې ژمی به وي، او زه غواړم چې یخ جوس وڅکم<br><br>- **له هیره مو باید ونه وځي چې د نن ورځ لپاره د خاطراتو په کتابچه کې لیکنه وکړی.** |
| ۱۵ دقیقې | **(موخه: انعکاس)**<br>ددې وخت رارسیدلی دی چې خپله د اونۍ د خاطراتو کتابچه خپل مور او پلار او ملګرو ته وښایې او ددې په اړه چې د تیرو څو ورځو په اوږدو کې مو څه زده کړي له هغوی سره شریک کړی. لاندې پوښتنې د یوه لارښود په توګه د خپلو ځوابونو لپاره وکاروئ.<br>- کومه برخه تر ټولو ډیره په زړه پورې وه؟<br>- کومه برخه تر ټولو ډیره ستونزمنه وه؟<br>- هغه کومې پوښتنې دي چې ستاسو په ذهن کې پیدا شوي دي چې تر اوسه د هغو په اړه فکر کوی او غواړی چې د هغوی په اړه پوه شی؟<br>- هغه څه چې مو زده کړي دي غواړی په څه ډول استعمال کړی؟ |
| **اضافي د غني کولو فعالیت** | له ورقو څخه لاسې ساعتونه جوړ کړئ.<br>https://www.youtube.com/watch?v=F0BSSXXCgt8 |
| **د آسانتیا لپاره بدلونونه** | |

**ضمیمه**

**د وخت ویل – ساعتونه**

د هر ساعت لپاره دقیقه ګر او د ساعت ستنه رسمه کړئ

